

## د مورنۍ ژبي پښتو کنفرانس په مالمو کي

د سویډن هیواد د مالمو په ښار کي د مورنۍ ژبي پښتو کنفرانس په بریالیتوب پای ته و رسېد . پدي کنفرانس کي د ناروي ، فینلینډ او سویډن د هیوادونو د پښتو ژبي ښوونکو ګډون کړئ وو .



د کنفرانس په پیل کي د مالمو د ښار د مونیو ژبو مدیري اناکارین هېډنسکوګ د مورنیو ژبو د چارو او دوو ژبو فعالیتونو په هکله خبري و کړې.



تر هغه وروسته ماتس وینرهولم د مورنیو ژبو د پاڼو مسول د پاڼو د راتلونکي په هکله معلومات وړاندي کړه.



په کنفرانس کي ښاغلي محمد معصوم هوتک د افغانستان د ښووني او روزني د تاریخچي او ژبي د

انکشاف په هکله د کنفرانس ګډون کوونکو ته معلومات ورکړ.

د کنفرانس ګډون کوونکو د خپلو تدریسي ستونزو ، فعالیتونو او پرمختګونو په هکله د یو او بل سره خپلي تجربې شریکي کړې او په راتلونکې کي یې یو د بله سره د ګډو همکاریو ژمني وکړې.

د بریالیتوبونو او کمیو په هکله ګډون کوونکو خپل www.pashto.se د پښتو پاڼي نظر ښکاره کړ او پدې برخه کي یې د همکاریو خبري و کړې. د کنفرانس په جریان کي د درسي موادو په هکله هم خبري و سوې. کنفرانس په بریالیتوب سرته و رسېد او ګډون کوونکي د دغو دوو ورځو د پروګرام څخه راضي وه.